بسم الله الرحمن الرحیم

اخلاق د اسلام په رڼاکې

لیکوال:مولنا سید ابوالاعلی (مودودي)

ژباړن: مولوي محمد شریف(رحماني)

په معمولي حالاتو کې چې د ژوند سمندر په ورو ورو روان وي نو انسان یو ډول ډاډ احساسوي دا ځکه چې د سیند پرمخ سپینو رڼو اوبو پرده جوړه کړې او تري لاندې خاوري او ختې پټې دي د سپینو اوبو د مخ صفایې چې یو څوک ویني نو ددې خبرې د څېړلو هیڅ اړتیا نه

محسوسوي چې ووائې ددي په تل کې به کوم شيان او څنګه پټ وي ؟خو کله چې پـه سـمندر توپـان راوالوزي نو لاندې ټولي ختې رابرسېره او د اوبو له پاسه و بهيږي نو پدغه مهال د ږانده انسان نه پرته هر سړی ګوري چې د ژوند په دي سمندې کې د نته څه پټ دي دا هغه وخـت وي چـې عـام وګـړي يـې احساس کړي او په دي فکر کې شي چې د هغې سر چينې معلومات دي تر لاسه شي له کوم ځايه چې دا خاوري ختې او ګندګی را رواني دي او هر هغه تدبير دي په کار واچولی شي.چې د هغې پـه وسـيله دغه سيند صاف سوتره و ساتلی شي

واقعيت دادي چې که چيرې په دي مهال هم په خلکو کې احساس راپيدانه شي نـو دا ددي خبـري څرګند دليل دي چې بشريت د خپل غفلت په نيشه کې داسې بيخوده پروت دي چې له سره خپله ګټـه او زيات نه پيژني .

<u>د اوسنيو ولسونو اخلاقي حالت</u>

په اوسني وخت کې چې موږ ژوند کوؤ نړۍ وال وضـعيت غيـر معمـولي بڼـه لـري د ژونـد سـمندر طغياني څپې وهي او دهيوادونو او ولسونو ترمېنځ سخت اخ او ډب روان دی د بشري نړۍ زياتو و ګړو خپل ټول اخلاقي ازرښتو نه له لاسه ورکړي دي اوس موږ هغه پليتي د ژوند په ډګر پـه ډاګـه وينـو.او د پلتنې لپاره يې څه کړاو او زيار ګاللوته اړتيا نه بولو اوس خو يـوازي هغـه شـخص چـې لـه مـوره ړونـد پيداشوی اوسي په دي اشتباه کې پريوزې چې وواېي در نځور حالت ښه دی.او يـوازې هغـه و ګـړي د رنځ له علاج او تشخيص نه بې غمه پاتې کيدی شي چې د ځارويو په څير له اخلاقي حس څخه خالي وي او يا هغه و ګړي چې اخلاقي احساسات يې فلج شوې اوسي.

موږ يې په خپلو سترګو وينو چې بشپړ ولسونه په ډيره لويه اندازه د هغو بدترينو رزيلو اخلاقي صفاتو يشپړه څرګندونه کوي چې د بشريت ضمير ورته دتل لپـاره د کرکـې او نفـرت پـه سـترګه کتلـې دي.بې انصافي ، بې رحمي، ظلم، دروغ، دوکه، خيانت فريب ، وعده خلاقي بې حيايې ، ځـان ځـاني ، زور زياتی او داسې نور جرمونه اوس يوازې انفرادي جرايم نـه بلکـې د ولسـي اخلاقـو پـه حيثيـت يـې څرګندونه کيږي يه نړۍ کې يې لوی لوی ملتونه په تولنيزه توګه سرته رسوي که چيرې په شخصي توګه چا دا جرموته تر سره کړې وای نو هغوی به د خپلو هيوادونو په جيلخانو کې پراته وای اوس مهال ټولـو ملتونو خپل لوی لوی مجرمـان راټـول کـړي او خپـل مشـران يـې ګرزولـې دي ددوی پـه مشـرتابه کـې دبدمعاشی او لو چکی خراب او بدتر ماډل نه دی پاتې چې هغـه دوی پـه څرګنـده توګـه پـه پـوره بـې حيايې سره سرته نه وي رسولی هر قام دبل قام په خلاف په لويه پيمانه دروغ جوړوي او په خپرونـه يـې لاس پوري کوي بشپړ هيوادونه او لويې و چې په لوټ مارانو بـدلې شـوې دي او هريـو ډاکـو د خپلـې

ډاکې پرمهال په ډیرې بې حیایې سره د خپل رقیب د ناوړه کړو وړوڅخه چیغې او سوري وهي داسې ناوړه کړه وړه چې دده خپله لمن د خپل رقیب په مقابل کې څه لږه توره نه وي ددغو ظا ْلمانو په وړاندې د انصاف او عدالت معنا یوازې دادې چې هر څوک دې له خپلو ولسونو سره له انصافه کار و اخلې . حق هر هغه شی دې چې دد وی لپاره وي د نورو په حق تیری کول د دوی په اخلاقي قانون کې نه یوازې روا بلکې د ثواب کار ګڼلی شي نژدې نژدې د ټولو ملتونو همدغه حال دی له دوی سره د اخیستلو پیمانې جلا او دورکولو لپاره جلا دي دوی چې دخپلو ګټو دتحقق لپاره د څو مره معیارونو د بنسټ ډېره بړدي کله چې د نورو د ګټو خبره مطرح شي نو ددوی معیار بدلون وموميي او دکومو معیارونو عوښتنه چې دوی له نورو څخه کوي دهغو پابندي د خپل ځان لپاره ناروا بولي.

د تړونونو او اولوظنا مو ماتولو رنځ تردې اندازې پورې رسیدلی دی چې اوس یو دولت او ملت په بل دولت او ملت باور نه شي کولی.د لویو دولتونو نمایندګان چې په نړۍ والوتړونونو کوم لاسلېکونه کوي نو هماغه مهال ددوی په زړونو کې خبیثه اراده پرته وي چې کله هم دوی ته فرصت په لاس ورشي نو بیابه ددې تړون څه پروا نه ساتي.

کوم وخت چې د یو ملت جمهور رئیس او یا صدر اعظم دبل قام د تباهی او بربادۍ لپاره چړې تیرې کوي نو په ټول ملت کې دده پرضد یو اواز هم نه پورته کیږي جوته ده چې د ټول هیواد وګړي په دې جرم کې شریک دي د ملتونو د همکارۍ او فریب ور کولو خو دغه حال دی چې د لویو لویو سپیڅلو اخلاقي اصولو په هکله خو خبري اترې کیږي یوازې ددې هدف په خاطر چې نړۍ والوته دوکه ورکړي او دخپلو ګټو په خدمت کې یې استعمال کړي او ساده خلکو ته ډاډ ورکړي چې له تاسو څخه چې موږ د ځان او مال د سرښندنې کومه غوښتنه کوو دا د خپل ځان لپاره نه بلکې د ټول بشریت د ښیګڼې او نیکمرغۍ لپاره یې تر سره کوؤ

ددوی قساوت (د زړه سختیا) او بې رحمي تر دې اندازې پورې رسیدلې ده چې کله یو هیواد پر بل حمله کوي نو په ډېر فخر او غرور په وحشیانه توګه د هغه هیواد دوګړو د وژلو او ابا دیو دړنګولو زیری ورکوي ګویا هغوی یې بشریت ته اعلاتوی چې نړۍ په انسانانو نه بلکې په لیوانو او ځنګلې ځناورو اباده دی ددوی له ظا لمانه او وحشیانه چلند څخه د ځنګله ځناور شرم احساسوي د هغوی خپل سری توب اوو حشت تر دې حده رسیدلی دی چې یو قام په بل قام دبري نه وروسته نه یوازې دا چې په ډیرې بې باکۍ سره یې په لوټ او تالان لاس پورې کوي بلکې په ډیرې منظمې طریقې سره هلې ځلې کوي .چې په هغوی کې ټول اخلاقي فضایل له مینځه یوسې او ټولو رز یله (ګنده) صفاتو او خویونو ته په کې وده ورکړي په داسې حال کې چې دوی یې پخپله له ناوړتیاڅخه سر ټکوي .

دغه یو څو څرګندې اخلاقي نیمګړتیا وې دي چې د نمونې په توګه مې بیان کړې-البته که چیرې یې په پوره تفصیل سره جاج و اخیستلی شي نو څرګنده به شي چې د بشریت بشپړ جسم په اخلاقي حیثیت سره بوی ناک شوی دی پخوابه د زنا، فحشاء و او دجواری اډې تر ټولو لویې ګنده او خرابې سرطانې تباه کوونکې دانې ګڼلی شوې اوس خو چې په کوم لوري ګورې ټول بشري تمدن سرطا نې لویه دانه ښکاري د ولسونو پارلمانونه ، د حکومتونو نظامونه وز ارتونه، محاکم څارنوالي، د خپرونې ټول وسایل ، پوهنتونو نه ، لیسې او مدرسې ، بانکونه ، صنعتي شرکتونه او سوداګریزې غونډې دا ټول هر څه په داسې سرطانې دانو اخته دي چې یو تیزنشتر ته اړه لري

تر ټولو زیاته دا فسوس او غم خبره خوداده علم چې د بشریت تر ټولو ستر جوهر تشکیلوي نن د هغې هره ځانګه د بشریت د تباهۍ لپاره استعمالولی شي د ځواک او قوت څومره وسیلې چې الله پاک انسان ته ورکړي دي دفساد او تباهۍ په چارو کې ورځخه کار اخیستلی شي انساني لوړصفتونه لکه میړانه ، ایثار، سر ښندنه سخاوت ، صبر، زغم، ټینګه اراده اولوړهمت او داسې نور نن ورځ د یو څولویو بنسټیزو بد اخلاقیو په خدمت کې دي څرګنده ده چې ټولنیز فساد هغه مهال ډیر څرګند ښکاري کله چې ځانګړي فسادونه د بشپړوالي مرحلې ته ورسیږي تاسو ددې خبرې سوچ نه شی کولی چې که چیرې د یوې ټولنې زیات وګړي نیک خلک وي په مجموعی توګه دې په بدو چارو لاس پورې کړې داهم په هیڅ ډول امکان نه لري چې نیک عمله وګړي به د خپل قیادت او مشرتابه واګي دبدکاره خلکو په لاس ورکړي او په دې خبره به خو ښې څرګنده کړي چې د هغوی ولسي ، دولتي او نړۍ والې چارې په غیر اخلاقي اصولو و چلوي نو له همدې امله په لویه کچه د نړۍ ولسو نوته دداسې رزیلو او ناکاره اخلاقو څرګندونه د خپلو ټولنیزو ادارو په وسیله تر سره کوي دا ددې خبرې دلیل دی چې نن بشریت د خپلو ټولو علمي اوتمد نې پرمختګونو سره سره په یو ډیر سخت اخلاقي تنزل او انحطاط کې اخته او زیا تره وګړي ددې رنځ نه اغیزمن شوې دي دا حالت که چېرې همداسې دوام وکړي نو هغه وخت لري نه دی چې په هغې کې به بشریت دېوې لویې تباهۍ سره مخامخ او دتیارویوه اوږ ده لړۍ به پرې را خپره شي اوس که موږ په پټو سترګو دبربادۍ دغې ټیټې کندې ته په منډه ځغلیدل نه غواړو نو موږ ته ددې درک لګول په کاردي چې ددې فساد سرچینه چېرته ده چې له هغې نه داتوپان ر اولاړشوی. څرنګه چې دغه اخلاقي فساد دی نو موږ به ارومرو ددې پته په هغو اخلاقي افکارو کې لټوو چې د نن په نړۍ کې پابښت لري.

<u>د نړۍ والو اوسنی اخلاقي مفکوره</u>

اوس پوښتنه دا ده چې د نړۍ والو اخلاقي مفکوره څه شی دی ؟ ددغې پوښتنې د ځېړنې څخه موږ ته په ډاګه کیږي چې په بنسټیزه توګه دغه ټول افکار په دؤو لویو برخو ویشل شوې دي.
یو ډول هغه افکار دي چې د توحید او اخرت د ژوند له عقیدې سره تړاؤ لري.دویم ډول هغه افکار دي چې هغه له دې عقیدې څخه جلا دي او په څه نورو بنسټونو یې ټینګښت مونـدلی دی اوس بـه مـوږ ددې دواړو افکارو جاج واخلو وبه ګورو چې په نړۍ کې نن وخت دغه افکار په کومه بڼه موندلی شي او پایلې یې څه دي؟

دالله عروجل په توحید او داخرت په عقیدې چـې د څـومر ه اخلاقـي افکـارو د بنسـټ ډبـره ایښودل شوې د هغو دشکل او صورت بشپړ انحصار د هغې عقیدې په نو عیت پـورې تړلـی شـوی دی چې د الله او اخرت د ژوند په باو ر لرونکو خلکو کې موندلی شي نو ځکه موږ ته لیدل په کاردي چې نړۍ وال نن مهال الله عز وجل په کوم شکل مني او دبل ژوند په هکله یې عام تصورا وفکر څنګه دی؟

په الله عزوجل زیاتره باورلرونکي وګړي په شرک کې اخته دي هغوی په خپل اټکل دالوهیت زیاتره اختیارات چې د هغو تعلق د هغوی له ورځیني ژوند سره ده په نورو مخلوقاتو ویشلې.او د هغوی خیالي مجسمې یې د خپلې غوښتنې په برابر داسی جوړې کړي چـې هغـوی د خپلـې خـدایې واک او صلاحیت ددوی له خوښې سره سم په کار راولي.دوی په ګناهونو لاس پورې کوي هغوی ورته بخښـنه کوي دوی د خپلو فرایضو نه غافله او د هغوی د حقوقو نه بې پرواد څناورو په شان د حلالو او حرامـود بېلتون نه پرته د نړۍ په ورشوکې په څړلګيادي او هغوی د خپـل نـذر اونیـاز پـه بـدل دوی تـه د نجـات ضمانتونه ورکـوي کـه دوی غلاکولـو تـه هـم ځـي نـو دهغـوی د مهربـانی لـه کبلـه پـولیس اوده پـاتې شي.ددوی او هغوی تر مینځ په دې خبره سودا شوې ده چې دوی دې دخپل لورې نه خپله عقیـده ښـه ساتي .او نذر او نیاز دې وړاندې کوي. ددی په عوض کې به د دوی ټولې چارې د دوی له خوښې سره سمې ترسره کیږي او لـه مرګـه وروسـته چـې هـر کلـه اللـه د دوی مؤاخـذه وغـواړي نـو هغـوی بـه د مېنځګړي په توګه ووایي. چې دوی خو خپل ځانونه زموږ په ځولۍ کې اچولي ؤ. دوی ته دې هیڅ نه ویل کیږي. بلکې په ځینو ځایونو کې خو د دوی د رانیولو هیڅ ضرورت نه پیښیږي.ځکه چې د دوی د ګناهونو کفاره خو بل چا مخکې سرته رسولې وه.

دغو مشرکانه عقیدو د اخرت په ورځ باور هم یې مفهومـه وګرزولـو، ددې نتیجـه دا شـوه چـې ټـول اخلاقي ارزښتونه له مېنځه ولاړل چې دین یې د بنسټ ډبره ایښې وه. دیني اخلاق خو یوازې په کتابونو کې لیکلی شوې او په ژبه یې هم په ډیرې درناوې سـره یادونـه کیـږي. البتـه پـه عملـي توګـه د دوی د پابندی نه د ژغورلو په خاطر شرک د ټینښتې. بې شمیره لارې پرانستي دي. په هر حال دوی خپل زړه ته

ډاډ ورکوي، چې د خلاصون پړاؤته به ورسیږو له شرک نه ور اخوا چیرته چې د الله پالنې او اخرت عقیده په ښه شکل موجوده ده. هلته وینو چې په الله پاک د باور غوښتنې د بشري ژوند په یوه کوچنۍ دایره کې محدودې شوي دي. ځینې چارې یو څو رسمونه او بندیزونه دي چې د انفرادي او ټولنیز ژوند په محدوده دایره کې یې ګویا الله ور څخه غوښتنه کوي او په بدل کې یې ورته ډیر لوی جنت تیار کړی.

که چیرې دوی دا غوښتنې بشپړې کړي. نو بیا خو د الله له لوري د بل څه کولو ضرورت نه پیښیږي له دې نه وروسته دوی بشپړه خپلواکې لري چې د ژوند چارې له خپلې خوښې سره سم سرته ورسوي او که چیرې هغوی په دغه الهي غوښتنوکې له نیمګړتیا څخه. کارواخلي نو د هغه جلت، عظمته په رحمت او مهربانۍ دوی باوري دي چې د جنت په دروازه کې به له دوی څخه د ګناه پیتۍ لرې کړي او جنت ته د ننوتلو لپاره به اعزازي ټکټ.ورکړي

دغه تنګ او لنډ دیني تصور خو د لومړي ځل لپاره د ژوند په معاملاتو باندې د دیني اخلاقیاتو تطبیق ډیر محدود کړ. چې د هغې له کبله د ژوند ټولې لویې لویې څانګې د ټولو اخلاقي لارښوونو او بندیزونو څخه ازادې شوي کوم چې به د دین نه تر لاسه کولی شوې بله دا چې په دې تنګه دایره کې د اخلاقي نیوکې نه د ژغورنې لپاره یوه پرانستې لاره پریښودل شوه او دهغې نه د ګټې په اوچتولو کې ډیر لږ خلک سستی ځرګندوي له دې ټولو نه ښه حالت چې د کومو مذهبي پاټکیو دی په داسې حال کې چې هغوی له شرک څخه هم پاکې دي په رښتیا سره په الله باور لري او د اخرت په هکله د دروغو په اسره باوري نه دي د دوی دننه د اخلاقو سپڅلتیا خو بیشکه موندلې شي.البته په عامه توګه د مذهب او روحانیت محدود تصور دوی خراب کړي دي. دوی له دنیا او له ژوند سره د اړوندو پیښو نه تر ډیرې اندازې پورې بې تعلقه پاتې شوې دي او څو ځانګړي کارونه یې چې هغه دیني چاري ګڼلی شي په خپله غاړه اخیستي دي یا خو خپل روح په وینځلو وینځلو سوتره کوي.ددي په خاطر چې دوی هم په دې نړۍ کې د عالم غیب د اوازونو د اوریدلو او حسن مطلق د سوري د لیدو قابل وګرزي د دوی په نزد د دنیوي ژوند نه ګوښه کیدل. الله ته د نژدې توب او نجات وسیله ده.یو لورته چې دین کومه نقشه وړاندې کړې د هغې په برابر دې د خپل ژوند یو څو ځرګند اړخونه برابر کړي او بیادې د نفس د تزکیې د څو طریقو څخه کار واخیستلی شي او بیا دې د یوې محدودې دایرې دننه په څو مذهبي او روحاني مصروفیتونو کې بوخت پاتې شي او د ژوند شپې او ورځې دې بشپړې کړې. ګویا د دوی خدای ته یو څو ښایسته د شیشو لوښې یو څو ښکلې لاوډسپیکرونه یو څو خوندور راډیو ستیشنونه او

یو څو ښکلې د عکاسۍ کمرې په کاروې او دهمدغه هدف لپاره هغه زمکې ته ددومره وسایلو سره انسانان رالیږلې ؤ.

ددې په خاطر چې هغوی دلته خپل ځان په دې شیانو کې تبدیل کړي او بیادې بیرته ولاړشي ددین دغه رو حانې نا سم تصور او فکر له ټولو نه ډیرلوی زیان دا رسولی دی چې کوم وګړي د ډیرو لوړو او سپیڅلو اخلاقي صلاحیتونو لرونکې ؤ، هغوی یې د ژوند له ډګره ګوښه کړل او ګوټونو ته یې بوتلل ډیرو پستو او نالایقو خلکو ته له څه کړاوه پرته د ژوند ډګرخالي پاتې شو.

د نړۍ د بشپړ مذهبي صورت حال لنډیز هم دادی او له دې څخه تاسو اندازه لګولی شي.چې د الله پالني له عقیدي څخه کوم ا خلاقي ځواک انسان ته په لاس ورتللی شو. ډیرو خلکو هغه حاصل نه کړ.ډیر لږ وګړي یې په حصول بوخت دي.

دا ځکه چې د بشریت د مشرتابه او لارښوونې نه هغوی پخپله لاس اخیستی دی، نو ځکه د هغوی حال هغې بطرۍ ته ورته دی. چې له ځواکه ډکه وي خو بیا هسې چیرته پرته وی.

د انساني تمدن قافله چې په اوسنۍ وخت کې کوم خلک رهبري کوي. د هغوی خویونه د الله او اخرت د بنسټیز تصور څخه خالي دي او له پوهې سره سره خالي کړی شوي دي. دا چې په اخلاقو کې یې د الهي لارښوونو نه په بشپړه توګه انکار کړی دی.

اګر که په هغوی کې ځینی خلک د څه نا څه مذهب قایل دي. خو د هغوی په وړاندې دین او مذهب د هر سړي یوازې شخصي معامله ده. چې هغه د یو شخص تر ذاته پورې محدود ساتلی شي. له ټولنیز ژوند او معاملاتو سره د دین او مذهب هیڅ سرو کار نه بولي. بیا نو ددې څه اړتیا ده چې هغه دې د ژوندنیو چارو د چارچلند د لارښوونې په خاطر د بشریت نه د لوړ ځواک په لوري مراجعه وکړي

د تیرې شوي پیړی په وروستیو برخو کې چې د کوم اخلاقي خوځښت پیل له امریکا څخه وشو. بیا ورو ورو په انګلستان او نورو هیوادونو کې هم خپور شو د هغه بنسټیز اهداف د امریکا د اخلاقو د انجمن د اعلامیې په فهرست کې په دې توګه وړاندې شوی دی.

د بشري ژوند په ټولو اړیکو کې که هغه شخصي وي او که ټولنیزې، ملي وي او که بین المللي د اخلاقو په انتهایې اهمیت زور او فشار راوړل ضروري دي په دي شرط چې دیني معتقداتو او مافوق طبیعت افکارو ته په کې ځای ور نه کړی شي.ددې خوځښت له امله په انګلستان کې د اخلاقو د انجمن ټلواله Union of Ethical Societies جوړه شوه.

وروسته بیا د اخلاقي اتحاد Ethical Union په نوم پیوستون جوړ شو. ددې بنسټیز اهداف داسې بیان شوې.

انساني ملگرتيا او بشري خدمت بايد د مذهب، دين ، اخرت او د مرگ نه وروسته ژوند له تصوره پاک اوسي اخلاقو ته د اخرت د عقيدې څه اړتيا نشته. په سوچه بشري او فطري وسايلو سره انسانان د خپل ژوند په ټولو برخو کې له حق سره د مينې او معرفت او په حق باندې د عمل کولو لپاره تيارول ضروري دي.

واقعيت دادی چې په پورته الفاظو کې د لويديځ تمدن څيره بر بنډه شوي ده چې نن ورځ د نړۍ د افکارو د تهذيب او تمدن د چارو د لارښوونې واک ورسره ده.

نن ورځ چې په عملي توگه کوم وگړي د نړۍ نظام چلوي د هغو ټولو په فکر کې همدغه تصور پروت دی چې مخکې مو څرگندکړ دوی خپل افکار له الله او د اخرت د عقيدې او د دين له لارښوونو څخه ازاد کړي دي هغوی يوازې د الله جلت عظمته وجود مني خو د خپل ژوند لپاره اصول او قوانين له هغه څخه نه اخلي د ژوند په ډگر يې بې واکه بولي.

<u>د لادينه اخلاقي فلسفو جاج اخيستل</u>

اوس به موږ د غير ديني فلسفو جاج واخلو وبه گورو چې د دوی کيفيت څه شی دی ؟

۱- لومړی: د اخلاقي فلسفو بنسټيزه پوښتنه داده چې هغه اصلي او وروستنۍ نيکي او ښيگڼه کومه يوه ده چې هغې ته رسيدل د بشري هلو ځلو هدف وي او په معيار باندې يې د انسان عملي کړنلاره برابره او د ښو او بدو صحيح او ناسم په هکله يې پريکړه وشي؟ددې پوښتنې يو ځواب انسان ونه موند بلکې ددې گڼ شمير ځوابونه دي.

دېوټولگي له نظره خوښي ا و خوشحالي، د دويم په رايه کمال د دريم له نظره مسؤليت پيژندنه چې د مسؤليت پيژندنې په مقصد وي. بيا د خوشحالۍ او خوښي په هکله جلا جلا پوښتنې پيدا کيږي چې څنگه خوشحالي ؟ايا هغه چې د جسماني او روحانې غوښتنو په پوره کولو حاصليږی ؟او که د ذهني او فکري پرمختگ پوړيو ته رسيدل دي ؟ايا فردي او که ټولنيزه خوښي ؟په همدې توگه چې کوم خلک کمال هدف گرځوي د هغو په هکله هم ډيرې پوښتنې راولاړيږي.

د کمال تصور او معيار څه شی دی؟

په همدې ډول د چا کمال مطلوب دی ؟

د فرد او که د ټولنې او يا د ټول بشريت ؟

په همدې توگه چې کوم وگړي دا مني چې مسؤليت دې د مسؤليت په مقصد وي او د داسې قانون حيثيت دې غوره کړي. چې د هغه مطلق اطاعت وکړی شي او هغه دې انتهايي ښيگڼه او خير

وګڼل شي.د دوی په هکله هم دا پوښتنه را پورته کيږي چې هغه قانون په واقعيت کې څه شي دی ؟چا جوړ کړی او د چا قانون دی چې اطاعت يې پر موږ واجب شوی.

ددې ټولو پوښتنو ځوابونه د بيلابيلو ډلو په نزد جلا حيثيت لري. يوازې د فلسفې په کتابونو کې سره جلا نه بلکې په عملي توګه هم سره ورته والی نه لري.

د بشري پرګنو ګڼ وګړي چې د انساني تمدن بيړۍ را کاږي په دوی کې د حکومتونو چلونکي، وزيران د فوځونو جنرالان، قاضيان، قانون پوهان ، ښوونکی او ا قتصاد پوهان او د تمدن په دغه لويه قافله کې د بيلابيلو درجو کار کونکي شامل دي. له دوی سره د ښيګڼې او نيکۍ يو معيار نه بلکې د هر سړي او ټولګي جلاجلا معيارونه دي. د تمدن په دې نظام کې د کار کولو سره سره د هر يوه په وړاندې جلا جلا اهداف دي.د يو چا په نزد ځاني خوشحالي اصل هدف وي چې د هغه ځاني غوښتنې بشپړې شي. ځينې خلک خپلې خوشحالۍ پسې لګيدلی وي، د هغه په ذهن کې د خوشحالۍ نه بل څه مقصد وي ددې شخصي خوشا لۍ د حصول او نه حصول په لحاظ هغه پريکړه کوي چې په ټولنيز ژوند کې کوم چلند ښه دی او يا بد مګر د هغه په څرګند شريفانه صورت موږ په دې اشتباه کې پريوتي يو چې د انساني ټولنې لپاره هغه يو موزون وزير، قاضي، ښوونکی او يا په بل څه حيثيت د تمدن د ماشين يوه ښه پرزه ده.

په دې توګه د خوشحالۍ او نيکمرغۍ نه ځينی وګړي د ځانګړو خلکو خوشحالي اخلي چې له هغو سره د دوی مينه او شوق وي. د دوی په اند دا هغه لويه نيکي ده چې د لاسته راوړلو لپاره يې کوښښ کول د دوی په فکر ضروري برېښي، همدغه نقطه نظر بيا د خپل قام نه پرته د نورو ولسونو لپاره زهر ګرځوي.

خو موږ په ظاهري شکل هغه يو مهذب انسان بولو او هغه امانتونه هغه ته سپارو چې په هغو کې د هغه د خپلې طبقې او قام نه پرته د نورو برخه هم وي.په همدی توګه بيلا بيل شخصيتونه په هغو خلکو کې موندلی شي. کوم چې کمال لويه نيکي ګڼي او چې مسؤليت او فريضه د فريضې په توګه مني. په دوی کې زياتره خلک د خپلو نظرياتو د عملي نتيجو په اعتبار د انساني تهذيب او تمدن لپاره د زهرو حيثيت لري. خو هغوی په خپلو ځانونو د (ترياکو) د نوم کاغذ لګولی دی او زموږ په ټولنيز ژوند کې لګيا دي جذب کيږي.

۲- اوس وړاندي ځو د اخلاقو د فلسفې په بنسټيزو پوښتنو کې دويمه مهمه پوښتنه داده چې له موږ سره د خير او شر ښو او بدو د پيژندلو کومه يوه وسيله ده ؟

د کومې سرچينې په لوري رجوع وکړو چې ښه کوم دي او بد کوم دي صحيح څه او غلط څه شی دي ؟

ددې پوښتنو يو ځواب هم انسان نه دی موندلی ددې ډير ځوابونه دي.د چا په نزد هغه وسيله او سرچينه انساني تجربه ده، د چا په نزد د ژوند قوانين او د حالاتو د وجود پوهه ده. د چا په نزد وجدان دی د چا په نزد عقل دی په دی هکله ګڼ افکار دي چې پای نه لري دغه شيان د اخلاقود سرچينې په توګه منل د اخلاقي نظام له رنګولو سره مترادف دي. که چيرته دا شيان ماخذ او سرچينه وګڼلی شي.نو د اخلاقو لپاره به دا اصول وګرځي چې دا څه ټاکلی معيارنه لري د يوې بهيدونکې مادې په شان بهيږي او په بيلابيلو پيمانو کې جلاجلا شکلونه غوره کوي.

د بشري تجربو څخه د صحيح علم د لاسته راوړلو لپاره له دې نه پرته بله چاره نشته چې ددې په هکله مفصل او بشپړ معلومات راټول کړی شي او د يو بشپړ ذهن او سترګو څښتن ور څخه نيتجې تر لاسه کړي.

واقعيت دادی چې دا دواړه شيان امکان نه لري. دا ځکه چې بشري تجربې لا پای ته نه دي رسيدلې بلکې جريان لري، بيا تر اوسه چې کومې تجربې دي د هغې بيلا بيلې برخې د بيلا بيلو خلکو په وړا ندې دي.هغوی په بيلا بيلو ډولونو د خپل ذهن مطابق ور څخه نتيجې راوباسي. نو ددې نيمګړو معلوماتو څخه چې جلا جلا نيمګړي ذهنونه د خپلو هڅو مطابق کومې نتيجې تر لاسه کوي ايا هغه ټولی صحيح کيدلی شي ؟

که چيرې ځواب منفي وي نو هغه ذهنونه څومره په لويې ناروغتيا اخته دي چې د خپل خير او شر د پيژندلو لپاره د علم او پوهې دغه وسيله بشپړه بولي.

بيا همدغه معامله د ژوند د قوانينو او د حالاتو د وجود هم در واخله بيا خو تاسو د اخلاقي نيکيو او بديو د پيژندلو لپاره د هغه وخت انتظار وکړي. ترڅو چې ددې قوانينو او حالاتو په علم درته پوره ډاډ حاصل شي او که نه ؟نو بيا هم ددې نيمګړو معلوماتو پر بنسټ چې تاسو يې هم نېمګړې بولی د بيلا بيلو ذهنونو او عملي مرتبو خلک چې بيلا بيلې پريکړې کوي د دوی لپاره خير څه او شر څه شی دی ؟او د علم د هرې يوې نوې برخې د حصول نه وروسته خپلې پريکړې بدلوي تر دې پورې چې د نن ورځې خير د سبا لپاره شر جوړ شي او د نن شر د سبا لپاره خير وګرځي.د عقل او وجدان معامله هم له دې نه څه بيلتون نه لري.

جوته ده چې د خير او شر د پيژندلو څه استعداد عقل ته هم په برخه ده او هر شخص د عقل يو څه برخه لري په همدې توګه د خير او شر علم يو څه وجداني هم دی چې د هغه الهام د هر انسان

په ضمير کې په فطري توګه صورت نيسي. خو ددې علم لپاره يو هم په ذاتي ډول بس والی نه کوي چې د علم د نهايې او يواځينی وسيلې په حيث انتخاب شي. عقل او يا وجدان چې هريو تاسو په ذاتي توګه بشپړ وبولي، په هر حال به تاسو د علم په يوې داسې وسيلې اعتماد کوي چې نه يوازې په خپل فطرت کې نيمګړې او محدوده ده بلکې هغه چې تر بيلا بيلو اشخاصو، طبقو حالاتو او وختونو پورې ورسيږي. نو په بشپړه توګه په بيلا بيلو شيانو د خير او شر پريکړه صادر وي.

دا ټول شيان چې ما اوس ستاسو په وړا ندې بيان کړل يوازې تر علمي مقالو او فلسفيانه څيړنو پورې محدود نه دي. بلکې په واقعيت کې د نړۍ په تهذيب او تمدن کې په عمو مي توګه ددې عکس په بشپړه توګه څرګند ښکاري ستاسو په تمدن کې چې کوم وګړي کار کوي. برابره خبره ده چې هغوی اميران دي او که مامورين ټول د خير او شر صحيح او ناسم د پيژندلو لپاره په خپل خپل ډول هم ددې سرچينو په لوري رجوع کوي د هر شخص او ټولګې خير او شر د نورو له خير او شر څخه جلا دی تر دې پورې چې د يوه خير د بل لپاره بشپړ شر او دبل شر دبل انتهايي خيردی په دې ګډوډۍ کې داخلاقو لپاره څه مضبوط او پوخ بنسټ نه پاتې کيږي.

کوم شيان چې په نړۍ کې دتل لپاره جرم او ګناه ګڼلی شوې ؤ هغه نن سبا ديوې ډلې په نظر کې خير او ښيګڼه ګڼل کيږي او ياکه چيرې په بشپړ ډول خيرنه دې نو د اضافه خبر مرتبه يې مونـدلې ده په دې توګه کومې نيکې چارې چې انسان تل نيکې ګڼلې دي په هغو کې زياتره نن ورځ توکې ټکالې ګڼلی شي او بيلا بيل ټولګي په هغې نه يوازې د شرم احساس کوي بلکې په ډير فخر او وياړسره يې په ښکاره ډول تر پښولاندې کوي

پخوا به يو دروغژن دروغ ويل خو په رښتياء و به هم قانع ؤ. خو د نن ورځې فلسفو دروغ خبر ګرزولي دي او ددروغو ويلو يې يو باقاعده فن تدوين کړی او په لويه پيمانه ولسونه او حکومتونه دروغ خپروي همدا دهرې بد اخلاقی حالت درواخله تير مهال به بد اخلاقي يوازې بداخلاقي ګڼلی شوه مګر اوس هغه د نوې فلسفې له کبله ټولي مطلقي نيکی اوښيګڼې ګرزيدلې دي.

۳ - د اخلا قي فلسفې په بنسټيزو پوښتنو کې دريمه پوښتنه داده چې د اخلاقو د قانون ترشا هغه کوم زور او قوت دی چې د هغې په زور او ځواک دغه قانون نافذ کړی شي؟

ددې په ځواب کې چې کوم و ګړې د خوشالی او کمال قابل دي هغوی وايي.کومې نيکې چې د خوشالی او کمال په لوري بوتلونکې وي هغه د پيروی ځواک په خپل ځان کې لري په همدې توګه د غم ، کړاؤ او ذلت په لور بوتلونکې بدي پخپله پخپل ځواک د ځانه ساتي له دې نه پرته د اخلاقو د قانون لپاره دڅه بيرونې ځواک له سره اړتيانشته .

بله ډله وایې چې د مسؤلیت قانون د انسان د معقولې ارادي له مخې په خپل ځان باندې یو لازم کړی شوی قانون دی دده لپاره د څه بیروني ځواک اړتیا نه لیدل کیږي.

دریمه ډله سیاسي اقتدار د اخلاقي قانون لپاره اصل نافذه ځواک بولي ددې مسلک له نظره د حکومت او ریاست په لور هغه ټول واک منتقل کیږي هغه چې لومړی دالله جل جلاله لپاره منل شوی و یعنې دا ستوګنو لپاره داخبره.چې هغوی ته څه کول په کار دي او څه نه دي په کار د حلالو او حرامو واک دوی دالله عزوجل پر ځای دولت ته سپاري.

څلورمه ډله : دامرتبه او مقام د حکومت پر ځای ټولنې ته ورکوي ددې ټولو ځوابونو په نتیجه کې په نړۍ کې دفساد بې شمیره عملي صورتونه پیداشوي دي او لګیادي پیداکیږي.

لومړنیو دوؤ ځوابونوانفرا دي سرکشۍ او بغاوت ته دومره هوا ورکړه چې د ټولنیز ژوند شیرازه یې تار په تار کړه بیا ددې عکس العمل د هغو فلسفو په بنه کې څرګند شو چې د هغو له مخې حکومت ته د الوهیت او خلکو ته دغلامانو مرتبه ورکړی شوه؛ او یا بیا دا قرادو د خوراک او څښاک سره یې د هغوی د خیر او شر واګې هم د ټولنې په لاس کې ورکړل په داسې حال کې چې دالوهیت سپیڅلی مقام نه ریاست او حکومت ته په پرخه ده او نه ټولنې ته .

۴ : د امعامله ددې پوښتنې په ځواب کې هم پیښیږي چې هغه کوم محرک دی چې هغه انسان د خپلو طبیعې تمایلاتو پرخلاف د اخلاقي احکامو پابندۍ ته تیاروي؟د یو چا په وړاندې یوازې د خوشالۍ طمعه او درنځ او تکلیف ویره ددې لپاره بشپړ محرک وي.ځینې نور بیا یوازې د کمال خواهش او دزیان نه د خلاصون تمناددې لپاره کافي محرک بولي ځیني نور خلک په انسان کې دقانون د احترام په جذبې اعتماد کوي ځیني نور بیا د حکومت نه داجر هیله او د غضب ویري ته ارزښت ورکوي او ځینې بیا د ټولنې اجر او دغضب ویره داهمیت وړبولي.

په دوی کې هریو ځواب په عملي توګه زموږ په اخلاقي نظامونو کې دمخکې والي مرتبه حاصله کړي ده او که لږ شان ځېرشو نو دا حقیقت په ډیرې اسانۍ سره څرګندیدلي شي چې دا ټول محرکات دبد اخلاقۍ لپاره هم دومره ښه ثابتیدلی شي حقیقت دادي چې په دوی کې دبد اخلاقۍ لپاره د محرک جوړیدلو ځواک ډیر زیات دی په هر حال دیوې لوړې مرتبې د اخلاقي توب لپاره دا ټول محرکات په بشپړه توګه بس والی نه کوي .

دا په لنډ ډول ما د نړۍ د اخلاقي حالت جاج اخیستی دی .له دې نه په یو نظر دا محسوس کیږي چې په نړۍ کې نن سبا یوه هر اړخیزه ګډوډي موندلی شي .هر کله چې خلک له الله جلت عظمته څخه بې پرواشول نو څه داسې بنسټیز اصول یې ونه موندل چې په هغې سره په بشپړ ډاډ سره د خپلو

اخلاقو تعمیر وکړي.د اخلاقو ټولې بنسټیزې پوښتنې د هغه لپاره په حقیقت کې لاځوابه شوي دي نه خو هغه د هغه لوړ خیراو ښیگڼې څه پته معلومه کړه چې هغه دده د هلوځلو انجام گرزیدلی واي چې د هغي په وسیله یې د کړو وړو دښو او بدو یا د صحیح او ناسم پر یکړه کیدلی شوه نه یې هغه سرچینه پیدا کړه چې له هغی نه یې په صحیح ډول معلومه کړي وای چې خیر څه او شر څه شی دی او نه یې دالهي لوړ اقتدار په پیژندلو کې برې حاصل کړ چې د هغه د حکم پربنسټ د اخلاقو لوړې هراړخیزي او نړۍ والې ظابطې ته د نفاذ ځواک په برخه وای.او نه یې داسې ځواک وموند چې د هغې له مخه یې په انسانانو کې په ریښتیا باندې د عمل کولو او له دروغو څخه د ځان ساتلو حقیقي مینه او هڅه پیدا کړي واي انسان چې کوم مهال له الله عزوجل نه په بغا وت لاس پوري کړ نو په خپل سربې ددغو پوښتنو حل کول وغوښتل او په خپل خیال یې حل هم کړل البته داخو د انسان حل څخه را پیدا شوي نتیجې دي چې نن ورځ یې موږ د اخلاقي ځوړتیا د یو خطر ناکه توپان په څیر په پورته کیدلووینو چې بشپړ انساني تهذیب ته یې ډیر لوی خطر پېښ کړی دی.ایا اوس هغه وخت نه دي را رسېدلی چې موږ هغه بنسټ ولټوو چې پر هغه باندې د انسانې اخلاقو د تعمیر ماڼۍ ودانه شي:؟

په واقعیت کې دا هڅه او څېړنه یوازې یو عملي بحث نه بلکې زموږ د ژوند یو عملي ضرورت هم دی او د وخت نزاکت نور هم ضروري گرزولی دی له دي کبله زه دخپلې څېړنې نتیجه وړاندې کوم او غواړم چې کوم وگړي دا اړتیا محسوسوي نه یوازې دا چې په ډاډه زړه دې زما په نتایجو غورو کړي بلکې په خپله دې هم په بشپړې څېړنې لاس پورې کړې چې دانساني اخلاقو لپاره کوم بنسټ صحیح کیدلی شي؟

<u>د انساني اخلا قو صحیح بنسټونه</u>

زه چې د خپلو څېړنو او تحقیق نه کومو نتېجو ته رسیدلی یم هغه دادي د اخلا قو لپاره یوازې یوبنسټ صحیح دی او هغه موږ ته اسلام راښودلی په دې کې موږ د ټولو اخلاقي فلسفو په هکله د ټولو بنسټیزو پوښتنو ځوابونه موند لی شو داسې ځواب چې په هغه کې هیڅ نیمگړتیا نشته کومي چې په فلسفیانه ځوابونو کې موندلی شي هغه چې. نه خو د هغو له کبله په ټولنه کې د یو مضبوط او پوخ سیرت د بنسټ ډېره ایښودلی شي او نه د بشري تمدن د پراخو مسؤلیتونو د سپارلو قابل گرځیدلی شي.دلته موږ یوه داسی هر اړخیزه اخلاقی لارښوونه موندلی شو چې هغه د ژوند ټولی څانگې د پرمختگ تر لوړو څوکو پورې رسوي.اوپر هغه د یو ډېر صالح تمدن ماڼۍ ودانیدلی شي. که چیرې په دی اصولو د انفرادي او ټولنیزو کړو وړو بنسټ کیښودلی شي نو انساني ژوند به ددې فساد نه خوندي وساتل شي له کوم سره چې نن ورځ مخامخ شوی.

د کومو دلایلو په رڼا کې چې زه دغې نتیجې ته رسیدلی یم لنډه شرحه به یې گرانو لوستلونکو ته وړاندې کړم.؛

فلسفه چې د کوم ځای نه خپل اخلاقی بحث او څېړنه پیلوي په حقیقت کې هغه د اخلاقي مسئلې بیل نه بلکې د مینځ یو څو نکتې دي.

دا د هغې لومړی غلطي ده دا پوښتنه چې د انسان لپاره د عمل د صحت او غلطی معیار څه شی دی ؟

هغه کومه نیکي ده چې تر هغی رسیدل د انسان اصل مطلوب وي په اصل کې دا پوښتنه وروسته ده له دې نه مخکې چې د کومې پوښتنې حل کول ضروري دی هغه دا ده چې په نړۍ کې د انسان حیثیت څه شي دی ؟

دا پوښتنه په ټولو مقدمه ده د حیثیت د ټاکنې نه پرته د اخلاقو پوښتنه نه یوازې دا چې بې مفهومه ده بلکې په دې کې زیات ددې خبرې امکان دی چې په دې توگه کوم اخلاقي ارزښتونه په نښه کړی شي هغه به په بنستیزه توگه ناسم وي.

د مثال په ډول تاسو ته د کوم شي د تصرف په لړکې دا پریکړه کول وي چې په دې کې ماته څرنگه کول په کار دي او کوم قسم چلند زما له پاره حق او کوم ډول باطل دی ؟

نو ایا دا پوښتنه تاسو په صحیح طریقه حل کولی شي ترڅو چې لومړی دا خبره سپینه نه کړي چې په دې شي کې ستاسو حیثیت څه شی دی او له دې سره ستاسو د تعلق نوعیت څنگه ده ؟

که چیرې دغه شی د بل چا حاکمیت وي او ستاسو حیثیت په کې د یو امین په توگه وي نو په دې صورت کې به ستاسو لپاره د اخلاقي تگلارې نوعیت بل څه وي او که چیری د تاسو بې قیده واک وي نو ستاسود اخلاقي کړنلارې نوعیت به بله بڼه ولري او خبره یوازې دومره هم نه ده بلکې په حقیقت کې په دې خبره باندې د پریکړې انحصارهم دی چې په دې شي کې ستاسو لپاره د صحیح تگلارې تعینولو حقدار څوک دی ؟تاسو پخپله او که هغه څوک چې تاسو یې امین یاستی ؟

د اسلام سپیڅلی دین لومړی تر هر څه ددې پوښتنې په لور توجه کوي او مونږ ته په څرگند ډول له شک او شبهې نه پرته وایې چې په نړۍ کې د انسان حیثیت د الله جل جلاله د بنده او نایب په حیث دی دلته.چې له څومره شیانو سره انسان مخامخ کیږي ټول دالله جلت عظمته ملکیت دي تردې پورې چې انسان او د هغه د جسم ټول ځواکونه هم د انسان خپل ملکیت نه بلکی د الله عزوجل ملکیت دی چې ده ته یې په دې شیانو واک ورکړی او نړۍ ته یې د خپل خلیفه او نایب په توگه لیږلی دی په دې خبره کې د هغه یوه ازموینه هم ده د ازموینې وروستی نتیجه په دې نړۍ کی نه ر اوزي بلکې

کله چې د افرادو، قامونو او د انسانې نوعې کار ختم او د انسانانو د هلو ځلو نتیجې د بشپړتیا پړاؤ ته ورسیږي. نو الله عزوجل به بیا په یو وخت له ټولو خلکو سره د حشر په میدان کې حساب کوي.او ددې خبرې پریکړه به کوي چې چاد هغه د بندګۍ او نیابت حق پوره کړي.او چا نه دی پوره کړ ی دا ازموینه به یوازې په یوې خبرې کې نه بلکې په ټولو کارونو کې به وي د ژوند دیوې څانګې په هکله نه بلکې په مجموعي توګه به د ټول ژوند سره متعلق وي د نفس او جسم څو مره ځواکونه چې انسان ته ورکړ شوې د ټولو از موینه به اخیستله کیږي.

د انساني حیثیت ددې ټاکنې منطقي نتیجه دادي چې په نړۍ کې د خپلې اخلاقي کړ نلارې د ټاکلو حق انسان ته نه دی ورکړشوی بلکې ددې پریکړه دالله جلت عظمته حق دی لـه دي وروسته د اخلاقو د فلسفې ټولې پوښتنې چې فلسقیانو څیړلې نه یوازې دا چې حل کیدلی شي بلکې ددې خبرې هیڅ ځای نه پاتې کیږي.چې د یوې پوښتنې دې د هرش دیرش ځوابونه وي او په یـو یـو ځـواب دې.د انسانانو یوه یوه ډله د اخلاقو په یو جلا اړخ روانه وي او په تمدني او ټولنیز ژوند کې دي دا وسیدلوسره سره په بیلا بیلو لارو روان وي.

که چیرته د انسان حیثیت ومنلي شي چې اسلام هغه ته ورکړی دی نو دا خبره پخپله ټاکلی شي چې په الهي ازموینه کې بری او دهغه جلت عظمته رضا حاصلول هغه لوړه او بهتره نیکې ده چې پخپله همدغه د ژوند مطلوب او هدف دی

د یوې تګلارې دصحت او غلطۍ چورلیز په دې خبره ده چې هغه د نیکۍ په حصول کې تر څومره اندازې مرستندویه او یا خنډ ګرز بدلی شي په دي توګه چې دا خبره دلته غوره شي چې دانسان لپاره د ښو او بدو د صحیح او ناسم علم اصلي سر چنیه الهي لارښوونې دي .له دې نه پرته چې د علم نورې څومره و سیلې دي ددې اصلي سرچینې مرستندویه خوکیدلی شي خوپخپله اصلي سرچینه نه شي جوړیدلي.او د اخبره هم فیصله کیدلی شي چې د اخلاقو د قانون د واجب الا طاعت کیدلو اصل بنسټ یوازې دادی چې هغه د الله عزوجل مقرر کړی قانون دی او د اخبره هم سپیناوی مومي چې دښو اخلاقو پابندي او د بدو اخلاقو نه د ځان ساتنې لپاره اصل محرک د الله عزوجل مینه او دهغه د خوښۍ لټول اوله ناخوښۍ نه یې ځان ساتل دي.

بیانو نه یوازې دا چې د اخلاقو فلسفې ټولې بنسټیزې پوښتنې ځوابیږي په حقیقت کې چې په دې بنسټ کوم اخلاقي نظام په پښودریږي د هغې په دننه کې په ډیرې متوازنې او متناسبې طریقې ټول اخلاقي نظامونه خپل موزون ځای مومي.کوم چې د اخلاقي فلسفې مفکرینو تجویز کړې دي .

د فلسقي ډوله نظامونو بنسټيزه خرابتيا دانه دی چې په دوی کې دحقیقت اور ښتینولی څه اثار نشته.بلکې ددوی اصلي خرابې داده چې هغوی د صداقت یوه برخه اخیستې او هغه یې پوره کُل (مجموعه) گرزولې نو ځکه دیو جزء د کل (مجموعې) گرزولو لپاره چې څو مره د زیات والي ضرورت پیښیږي د هغې د بشپړتیا لپاره هغوی ار ومرو د ډیرو باطلو اجزاء و په اخیستلو مجبوریږي. ددې پرعکس اسلام بشپړ صداقت وړاندې کوي او په دې کلي (مجموعي) صداقت کې ټولې جزیې ر ښتینولی جذبیږي.چې له خلکو سره جلا او نیمگړي وي.

د لته د خوښی ځای هم دی خوله دې څخه هغه خوشالي مقصددی چې دالله عزوجل د قانون د پیروی په نتیجه کې سړي ته په برخه کیږي.دا خوښي او خوشالي مادي او جسمانې هم ده ذهني او روحاني هم په همدې ډول د فردهم ده د ټولنې او ټول بشریت هم په دې ټولو خوښیو کې ټکرنه بلکې توافق دی: دلته د کمال یو مقام هم دی خوهغه کمال چې په الهي ازموینه کې دسل په سل نمبرو د لاسته راوړلو نتیجه کې په برخه کیږي .او دا د فرد ، ټولنې، ولسونو او د بشپړ انسانیت کمال دی صحیح اخلاق او تگلاره هغه ده چې دهغې له کبله هر فرد نه یوازې دا چې د کمال په لوري پرمختگ وکړي بلکې چې د نورو په تکمیل کې هم مرستندوی اوسي ا.و دهیچا په تکمیل کې بندیز رانه ولي

دلته د لویدیځ فلسفې مفکرد(کانت) قطعي اوواجب الاطاعت(Categorical- Imperative) فرضیه هم د بشپړ ویاړ مقام مومي د کوم قطعي واحب الاطاعت قانون یادونه چې (کانت) کړې ده.چې پخپله هغه هم ددې توضیح و نکړی شوه په حقیقت کې هغه الهي قانون دی چې د الله جلت عظمته له خوا ټاکلی شوی او دالهي قانون په حیث واجب الاطاعت او بیله ځنډه بې اطاعت کول نیکي ده.

په دې توگه د لته د اخلاقي خیر او شر د علم چې کومه سرچینه موږ ته ښودلې شوې ده هغه د علم نورې وسیلې نه نفی کوي دکومو په لور چې فلسفي رجال رجوع کوي بلکې هغه دا ټول د یو نظام جزء گرزوي البته اسلام یې د اصلي سرچینې په توگه نه پیژني د الهي هدایت په وسیله چې موږ ته د خیر او شر کوم علم رابخښل شوی هغه اصلي علم دی پاتې شو هغه علوم چې په تجربې او عقل سره معلومیږي.دا ټول د اصلی علم (الهي لارښوونو) شو اهددي کومو شیانو ته چې الهي هدایت خیر وایې بشري تجربه او عقل د هغه گواهي ورکوي او د ژوند قوانین یې تصدیقوي عقل او وجدان یې دواړه گواهان دي په بیړه ویلي شو چې د صداقت اور ښتینو لی معیار یوازې الهي هدایت دی نه دعلم نورې وسیلې د بشر تاریخي تجربو او یا د ژوند له قوانینو څخه چې سرچینه یې بشري عقل او جدان وي که چیري داسې رایه قایمه کړی شي چې هغه دالهي لارښوونو پرخلاف وي نو اصل اعتبار الهي هدایت

ته ورکول کیږي.له مونږ سره دعلم د مستند معیار دشتون ګټه داده چې زموږ په علم کې به پو خوالی او انظباط وي.موږ به په بشپړه توګه له انتشار او ګډوډۍ څخه په امن یو چې د یو معیار د نشتوالي لـه کبلـه او هغه د (اعجاب کل ذي راي برایه) څخه پیداکیږي.

په دې توګه دلته د اخلاقو د قانون مرستیال ځواک (Sanction) مسئله هـم پـه دې شـان حـل کیږي .چې په دې سره د هغو نورو شیانو نفی نه کیږي کوم چې فلسقی پوهانو را مېنځته کړي دي بلکې د هغې سمون پري صورت مومي په کومو غلطو حدودو چې هغوی خواره کړی شوي دي له هغه ځای نه هغوی لرې کولی شي او په یو بشپړ نظام په صحیح ځای کې ایښودلی شي د الله عزوجـل قـانون دا چې الهي قانون دی په خپل ځان کې د تطبیق او تنفیذ ځواک لري او دا ځواک د هغه مؤمن مسلمان په زړه کې موجونه وهي چې د الله عزوجل د رضا په لاسته راوړلو کې خوښي محسوسوي او پخپله د هغه کمال غوښتونکی دی چې هغه د الله عزوجـل پـه لـور دورتللـو پـه نتیجـه کـې حاصـلیږي.دا ځـواک د مؤمنانو په ټولنه او هغه اسلامي حکومت کې هم موجودوي چې دالهی قانون په واکمنـی یـې د بنسـټ ډبره ایښودل شوې وي او د قانون په پابندی باندې یو مؤمن تیارولې شي د هغه سـوچه وظیفـه پیژندنـه هم ده، حق ته د حق په سترګه کتل او د هغه خوښول او باطل ته د باطل په سترګه کتل اولـه هغـه نفـرت کول هم دي او هغه تمه او ویره هم ده چې هغه یې له الله جلت عظمته څخه لري.

په بشري ژوند د اسلامي اخلا قو اغیزې

په دې توګه د اسلام ځلانده او نجات ښونکي لمر هغه بشپړه فکـري او عملـي ګـډوډي پـای تـه ورسوله او بیا یې د هغه لپاره د اخلا قو دیو بشپړ نظام د بنسټ ډبره کیښودله اسلام چـې د الوهیـت کـوم تصور وړاندې کوي هغه دادی چې الله عزوجل د انسان او ټولو کایناتو یواځینی څېښتن، خالق ، معبود او واکمن دی چې هېڅوک ور سره شریک نشته د هغه په درګاه کې د خیر له د عاء نه پرته په زورسره د سپارښت کولو ځای له سره شتون نه لري.له هغه عزوجل سره د هر انسان د بریالیتوب او ناکامی چورلیز د هغه په خپل عمل دی نه خو څوک د هغه کفاره ګرزیدلی شـي.او نـه د یـو چـا د عمـل ذمـه واري او مسؤلیت پر هغه اچولی شي او نه د یو چا د عمل بدله او عـوض بـل چاتـه ورکـولی شـي د هغـه جلـت عظمته سره د هیچا په نسبت جانبداري نشته چې له یو سړي ، یوې کورنی او یو قام سره یـې د نـورو پـه نسبت زیاته مینه او محبت وي ټول انسانان د هغه په وړاندې یو شان دي د ټولو لپاره د اخلا قو یو قانون دی د یو انسان فضیلت هر څه ددیني او اخلا قی فضلیت په اعتبار دی هغه پخپله زیات مهربـان دی او رحم یې خوښ دی هغه پخپله فیاض دی او سخاوت خوښوي هغه پخپله غفور او ښبونکی دی او ښښنه یې خوښه ده هغه پخپله عادل دی او عدل خوښوي هغه عزوجـل د ظلـم، تنـګ نظـري زړه تنګـی بـې

رحمی تعصب او نفساني طرفداری نه پاک او سپیڅلی دی نو ځکه بې هغه څوک خوښ دي چې هغوی له دې خبرو څخه پاک وي بیالویې یوازې د هماغه حق دی نو ځکه یې کبر کول خوښ نه دي الوهیت یوازې د هغه لپاره ده او نور ټول د هغه بندګان دي نو ځکه یې په یو بنده باندې د نورو الوهیت او حاکمیت خوښ نه دی یوازې د ټولو کایناتو څښتن دی له انسانانو سره چې څه دي هغه د امانت په توګه دي نو ځکه د یو انسان لپاره له الله عزوجل نه خپلواکي او د بل چا لپاره قانون جوړول او یو څوک د بل چا لپاره واجب لاطاعت ګرزیدل دا هر څه ټول په حقیقت کې غلط دي د ټولو انسانانو د اطاعت وړ هم د هماغه سپیڅلی ذات دی.

د ټولو اانسانانو خیر او ګټه په دې کې ده .چې په بشپړه توګه یې په بېړه اطاعت وشي بیا همغه محسن د شکر احسان او محبت وړدی هغه د نعمتونو ورکونکی او ددې وړدی چې دهغه په نعمتونو کې د هغه جلت عظمته د غوښتنې سره سم تصرف وکړ شي هغه عادل ذات دی لا زمه ده چې انسان د هغه په عدالت کې دسزاموندلو ویره او د ثواب طمع وساتي هغه علیم او خبیرذات دی اود زړونو پټې خبرې او رازونه ورته معلوم دي نو ځکه د ښکاره اخلاقی ښه والي نه هغه ته څوک دوکه نه شي ورکولی هغه د علم او قدرت په لحاظ هر ځای کې موجوددی نو ځکه د اهیله هیڅوک نه شی کولی چې څوک جرم وکړي او د هغه د نیولو څخه به وژغورل شي.

د الوهیت په دې تصور ښه فکر وکړي له دې نه په بشپړه توګه د یوې فطري نتیجې په توګه د انسان لپاره د ژوند یو مکمله ا خلا قي نقشه رامېنځته کیږي.او هغه نقشه د هغو ټولو کمزوریو نه خالی ده کوم چې د مشرکانه مذهبونو او د کفري الحادي مسلکونو په اخلا قیانو کې موندلی شي دلته نه خو د اخلا قي ذمه واریو نه دبچ کیدلو لپاره د غلا در وازې پرانستې دي او نه د ظالمانه فلسفو لپاره څه ګنجایش شته چې د هغو په نسبت انسان د خپلو رغبتونو پر اساس د انساني نړۍ په ویشلو لاس پورې کړي یوه برخه مجسمه فرښته او بله برخه دې مجسم شیطان جوړشي نه دلته دالحادي اخلا قو هغه بنسټیزه کمزوري موندلی شي چې د هغو له کبله په اخلا قو کې تزلزل رامېنځته کیږي.

د اسلام اخلا قي ښوونې یوه ډیره لوړه او پراخه نتیجه وړاندې کوي چې د هغې دوسعت او لوړتیا څه اندازه نشته او دهغې د انجام په لور د غزیدلو لپاره داسې محرکات برابر وي چې هغه ډیر پاک او سپیڅلې دي بیا دا فکر او باور چې د انسان ازموینه په یو شي کې نه بلکې په ټولو هغو شیانو کې ده چې الله پاک انسان ته ورکړي دي په دې حیثیت نه بلکې په جلا جلا حیثیتونو کې به وي کوم چې انسان ته په برخه شوي او د ژوند په یوه ځانګړې څانګه کې نه بلکې په بشپړ ژوند کې به وي د اخلا قو دغه دایره دومره ارته ده څو مره چې دا زمونږ دایره ارته شوې ده دانسان عقل د هغه د علم وسایل د

هغه ذهني او فکري ځواکونه د هغه حواس د هغه جذیات د هغه غوښتنې د هغه جسماني ځواکونه ټول په ازموینه کې شریک دي یعني د انسان د ټول شخصیت ازموینه اخیستل کیږي.

بیا په بیرون نړۍ کې چې انسان له کومو شیانو سره مخامخ کیږي په کومو شیانو چې دده واک او تصرف دی او له کومو خلکو سره چې په بیلا بیلو ډولونو د هغه اړیکه ده د هغو ټولو سره د هغه د چلند په هکله به بشپړه محاسبه کیږي.د هغو ټولو سره د هغه د سلوک او کړنلارې په هکله به له هغه ازموینه اخیستل کیږي.او له ټولو نه سخت امتحان به په دې خبره کې وي چې انسان دا هر څه د الله عزوجل دالوهیت او دخپلې بندګۍ او نیابت له احساس سره تر سره کړي او که د خپلې ازادۍ او خپلواکۍ له غوښتنو سره او که له الله عزوجل نه پرته د نورو د بندګۍ په چاپیریال کې ؟د اخلا قو په دغه پراخه تصور کې هغه تنګوالی نشته کوم چې د مذهب له محدود تصور څخه را پیداکیږي .

د اخلا قو پورتنی هر اړخیز تصور انسان د ژوند په هر ډګر کې مخته بیایي او دهر ډګر اخلا قي مسؤلیتونه ورته په ګوته کوي او هغه اخلا قي اصول ورته وربښئ چې په بشپړې پیروۍ سره به یې انسان په هغه الهي ازموینه کې بریالی شي چې هغه د دنیا د ژوند له جلا ډګر سره تعلق لري.بیا دا تصور چې د ازموینې اصلي او وروستنۍ پریکړه به په دې ژوند کې نه بلکې په یو بل ژوند کې به وي .او حقیقي کامیابي او ناکامي هغه ده چې هلته حاصله شي نه دلته دا خبره د نړۍ ژوند او ددې په معاملاتو کې د انسان نظر په بنسټیز ډول تبدیلوي ددې تصور له کبله هغه نتیجې کومې چې په دې نړۍ کې راوزي زموږ لپاره دښه والي او بد والي یا د صحیح او ناسم د حق او باطل د کامیابۍ او ناکامۍ اصلي غوځ او وروستني معیار نه شي پاتې کیدلی نو ځکه د اخلا قو د قانون د پیروي کولو یانه کولو انحصار هم په دې نتیجو نه شي کیدلي ، کوم شخص چې دا تصور ومني هغه به د اخلا قو د قانون په پیروۍ کې په هر حال ثابت قدم پاتې وي برابره خبره ده چې په نړۍ کې د هغې نتیجه په ښکاره ډول ښه وي او که بده د بري په بڼه څرګند شي او که د ناکامۍ په بڼه خو ددې معنا دا نه دی چې دده په نظر کې به د نیوي نتیجې په بشپړه توګه د لحاظ قابلیت ونه لري بلکې ددې معنا یوازې دادی چې د هغه اصلي او وروستنی نظر به داخرت په تلپاتې نتیجو وي او دخپل ځان لپاره به هغه تګلاره صحیح بولي چې هغه نتیجې یې په نظر کې ساتلې او غوره کړې وي.

هغه به دیو شي د پریښودلو او یا غوره کولو پریکړه په دې بنسټ نه کوي چې د ژوند په دې لومړي پړاؤ کې د لذت ، خوشالۍ او ګټې لامل دی او که نه، بلکې په دې بنسټ به یې کوي چې د ژوند په وروستنی پړاؤ کې به د خپلو غو څو نتایجو له مخې څرنګه وي؟

په دې توګه به دهغه اخلا ق پرمختللي وي نه دده سيرت بدليږي رابدليږي يعنې د تهذيب او تمدن په ښيرازې سره د هغه په اخلاقي تصور اتو کې به پراخوالی خو ارومرو را درومي خو هيڅکله کيدلی نه شي چې د پېښو د هراړخ او دحالاتو د هر تغير سره د هغه اخلاقي اصول هم بدلون وومي او له يو شخص څخه دي اخلا قي کربوړی جوړشي چې د هغه په اخلا قي سلوک کې دې هيڅ شان پوخوالی نه وي .د اخلا قو له نقطه نظره داخرت اسلا مي فکر موږ ته دوه ګټې لري اودا په بله وسيله نه حاصليږي .

لومړی: دا چې ددې په وسيله اخلا قي اصول ډير مضبوط او پوخوالی مومي.

دويم : دا چې ددې په وسيله اخلا قي سيرت ته داسي استقامت په برخه کيږي (چې په هغې کې دا ہما ن په شرط د بدلون هيڅ خطر نه وي .

په نړۍ کې در ښتينولی لس بيلا بيلې نتيجې راوتلی شي او په دې نتيجو نظر لرونکې انسان د وخت او امکاناتو په لحاظ لس ډوله جلا جلا عملي تګلارې غوره کولي شي البته په اخرت کې د صداقت اور ښتينولی نتيجه هم يوه وي او هغه مؤمن انسان چې په اخرت باورلري. د دنيوي ګټې او زيان له اړخه هم هغه يوه کړنلاره غوره کوي که ددنيا نتايجوته وګورونو بياخو خير اوشر د څه ټاکلې شي نوم نه شي پاتې کيدې يوشی د بيلا بيلو نتيجو په لحاظ ځينې وخت خير وي ځينې وخت شر او دهغې په پيروۍ کې ددنيا پرست انسان عمل هم بدليږي را بدليږي.البته که د اخرت په نتايجو نظر ساتې نو بيا خو خير او شر دواړه په غوڅ ډول ټاکل کيدی شي . کوم مؤمن انسان چې په اخرت باور لري د هغه لپاره هيڅکله کيدی نه شي چې ځينې وخت دې د خير بد انجام اود شر دې ښه انجام و ګڼي او په خپل عمل کې دې بدلون راولي.

بيا دا تصور چې په نړۍ کې انسان د الله عزوجل نايب او خليفه دی او دتصرف او واکمنۍ چې کوم واکونه دلته هغه ته په برخه دي هغه په اصل کې په دې بنسټ دي چې دی دالله جلت عظمته خليفه دی.او دغه شی د انساني ژوند لپاره لاره او هدف دواړه ټاکې له دې تصور سره لا زمي ده چې دا نسان لپاره خپلواکي او د الله جلت عظمته نه پرته دبل چا بندګي او د مالکيت او لويي ټولې تګلارې دې ناسمې او يوازې همدغسې تګلارې ته دې د صحت ګوته ونېول شي

هغه دې پخپلو ټولو تصرفاتو کې دالله د خوښې او دهغه د راليږلې قانون تابع واوسې له دې څخه دا خبره هم لا زمېږ ي چې انسان دې له يوې خوا پخپلو اخلا قو او سلوک کې د هر يوې داسې عملي تګلارې څخه ځان وساتې چې په هغې کې د خپلواکی سرکښی او يا د الله عزوجل نه پرته د بل چا د بندګی باداری او لويې د ذرې په اندول شک او شبهه وي دا ځکه چې دا درې واړه شيان دده

حیثیت ته زیان رسوي.دده حیثیت خو دنایب او خلیفه دی مگر بل لورته به د الله په ملکېت کې دده تصرف او د هغه په مخلوقاتو کې دده کړنلاره او دهغه عزوجل په رعیت واکمنې د هغو اخلا قو او هغې کړنلارې په برابروي کوم چې ددې سلطنت اصلي څښتن په خپل ملک او په خپل رعیت کې غوره کړي دي دا ځکه چې دنیابت د حیثیت غوښتنه دادې چې د بادشاه د نایب پالیسي او تګلاره دې پخپله د بادشاه د کړنلارې او اخلا قو سره په ټکر نه وي په همدې توګه له دې تصور نه دا هم لازمیږي چې کوم ځواکونه الله پاک انسان ته ورکړي دې د هغو ټولو استعمال دې دالهي لارښوونو پربنسټ وي داسي هم ویلي شو چې د بادشاه هغه نایب به سخت مجرم وي چې د بادشاه د خوښې پر ضد یې د هغه په ملکیت او دهغه په رعیت کې تصرف کړی وي او هغه نایب دې هم لوی مجرم و ګڼلی شي چې کوم اختیارات ده ته بادشاه ورکړي په هغو کې یو اختیارهم استعمال نه کړي اودهغه په ورکړل شوېو ځواکونوکې ځېنې.له مینځه یوسي او کومي وسیلې ېې چې هغه ته ورکړې له هغو نه په کار اخیستلو کې له پوهې سره سم له نیمګړتیا څخه کارواخلي .او له هغو مسؤلیتونو څخه مخ واړوي د کومو لپاره چې بادشاه مقرر کړی ؤ.

ددې تصور او عقیدې بله لا زمي غوښتنه دا هم دې چې د بشرې نوعې بشپړ ټولنیز ژوند دې په داسې طریقه برابرشي چې ټول انسانان یعنې د الله عز وجل ټول نائیان دې د هغو مسؤلیتونو په سرته رسولو کې کوم چې الله پاک هغوی ته سپارلې دي یو د بل مرسته و کړي او دتمدن اوودانۍ په نظام کې دې څه داسې کارکونکې نه وي چې د هغې له کبله یو انسان د بل انسان او یا یوه ډله د بلې ډلې خلافت په عملي توګه پای ته ورسوي او یا یې په عملې کولو کې خنډونه ایجاد کړي بله بڼه یې داده چې هرکله یو انسان او یایوه ډله د انساني خلاقت او نیابت څخه لاس واخلي او له خپل حقیقي بادشاه څخه په بغاوت لاس پورې کړې.

همدغه اخلا قی کړنلاره ده چې د خلاقت د تصور د لازمي نتیجې په توګه د انسان لپاره جوړه شوې پاتې شو د انسان د اخلا قي ژوندانه هدف او دهغه د ټولو هلو ځلو او کوښښونو نصب العین هغه هم له دې تصور سره د منطقی نتیجې په توګه یو ځای ټاکل ددې غوښتنه کوي چې د ځمکې پرمخ د انسان دژوند هدف د الله جل جلاله د خوښۍ له پوره کولو نه پرته نور هیڅ شی نه دي الله پاک چې د ځمکې د نظم او نسق څومره برخه انسان ته ورسپارلې ده په هغې کې دالهي قانون جاري کول د الله عزوجل له عوښتنې سره سم دعدل او انصاف.نظام پر پښو درول او د شر او فساد نظام چې انسانانو او پیریانو رامېنځته کړی له مېنځه وړل ټولو نیکیو ته وده ورکول او د بدیو له مېنځه وړل دا هغه مقصددیچې د هغې په لور به هر انسان خپلو هلو ځلو ته ادامه ورکوي دا هدف یوازې دومره هم نه دی

چې هغه ټول مقاصد له مينځه يوسي چې ماده پالونکو او قام پاله عناصرو د خپل ژوند لپاره مقرر کـړې دی بلکې دابه هغه بابيزه او عبث مقاصد وي چې دورحانيت تر غلط تصور لاندې د مـذهب خاونـدانو ټاکلې دي.

ددغو دواړو ناسمو افکارو ترمېنځ دالهي خلافت تصور دانسان په وړاندې د ژوند يو ډير لوړ او سپيڅلې هدف مخې ته بردي او هغه ټول څواکونه او استعدادونه دژوند په هر ډگر کې په کار راولي اود تهذيب او تمدن د يو ډير صالح نظام د ټينگښت او پرمختگ پـه خـدمت کـې يـې اسـتعمالوي دا هغـه بنسټيز اصول دي چې د انساني اخلاقو د ماڼۍ د ټينگولو لپاره موږ ته اسلام را په برخه کړي اسـلام د يـو ځانگړي قام ملکيت نه بلکې د ټول بشريت گډ ميراث تشکيلوي او د ټولو انسانانو دخالاصون او نجـان وسيله ده نو پردې اساس هر هغه چاته چې د خپل ځان او بشريت د نجات او خلاصون هيله ولري فکر په کار دی چې ايا د انساني اخلاقو د ماڼۍ د ودانولو لپاره دا بنسټونه غوره دي کوم چې اسـلام مـوږ تـه راکړي او يا هغه چې روحاني او فلسفي مسلکونه يې موږ ته لگيادي راښي که چيرته د چا زړه داگواهي ورکړي چې داخلاقو لپاره دغه بنسټونه صحيح دي نو بياخو د جاهلي تعصب پربنسټ ددې بنسټونو پـه منلوکې ځنډکول په کارنه دی

والسلام